## الدرس الأول
### أحكام الاخرة

## اولنئ درس
### د آخرت احکام

دایمان په بنیادی ارکانو کښې یو رکن ایمان بالآخرت دي ، انسان تر هغه وخت پوری مؤمن ندی ترڅو چی په هر هغه څه ایمان رانه وړی کوم چی د الله کتاب کښې او د رسول الله ﷺ احادیثو کښې بیان شوی دی ، د آخرت په باره کښې علم حاصلول ، یادول ډیر ضروری دی چی د انسان د نفس اصلاح وشی ، پرهیزګاری ، او په دین باندی کلک والے او نور خائسته صفات انسان کښې پیداء شی، دی دپاره د مرګ یاداشت ډیر ضروری دی ، د مرګ او د مرګ نه پس راتلونکی حالتو نه غفلت انسان کښې په ګناه باندی جرأت پیداء کوی، الله تعالی د هغې ورځې په باره کښې فرمائی : [فَكَيْفَ تَتَّقُونَ إِنْ كَفَرْتُمْ يَوْمًا يَجْعَلُ الوِلْدَانَ شِيبًا] {المزمل:١٧} ترجمه : نو څنګه به بچ شئ تاسو که چری کفر (انکار) کوئ د هغې ورځې نه چی وبه ګرځوی ماشومان بوډاګان ، او بل ځائی الله تعالی فرمائی : [يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ، يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّا أَرْضَعَتْ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى النَّاسَ سُكَارَى وَمَا هُمْ بِسُكَارَى وَلَكِنَّ عَذَابَ اللهِ شَدِيدٌ] {الحج:٢} ترجمه : اےخلقو ! ویره کوئي د رب خپل نه ، یقینًا زلزله د قیامت یو څیز دي هیبتناک، په هغه ورځ چي وبه وینی تاسو هغې لره چي غافله به شی هره پئ ورکونکےئ د هغه بچی نه چی پئ ورته ورکوی، او وبه غورځوی هر حمل والا حمل خپل، او وینی به ته خلقو لره نشه او حال دادی چی دوی نه وی نشه لیکن عذاب د الله تعالی ډیر سخت دی، دهر ساه لرونکی آخری منزل مرګ دی الله تعالی فرمائی: [كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ المَوْتِ ] {آل عمران:١٨٥} (هر ساه لرونکی به د مرګ سکه کوی ) [كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ]{الرَّحمن:٢٦} (ټول هغه څوک چی په زمکه باندی دی، فناء کیدونکی دی) او خپل نبی کریم ﷺ ته ئی خطاب کړی دی:[إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُمْ مَيِّتُونَ]{الزُّمر:٣٠} ترجمه: یقینا ته هم مړ کیدونکی ئی او یقیناً دوی هم مړه کیږی ، د مرګ په باره کښې یو څو ضروری خبری ذکر کول مناسب ګنړم ډیر خلق د مرګ نه غافله دی، حالانکه مرګ یو داسی حقیقت دی چی د شک کولو ګنجائش نه لری ، هر مسلمان باندی فرض دی چی خپل مرګ ډیر ډیر یادوی ، او د هغې دپاره تیاری کوی ، د مهلت د ختمیدلو نه مخکښې دنیا کښې دعمل صالح په ذریعه د آخرت ډیره ګټه وکړيقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ : اغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ : شَبَابَكَ قَبْلَ هَرَمِكَ ، وَصِحَّتَكَ قَبْلَ سَقَمِكَ ، وَغِنَاءَكَ قَبْلَ فَقْرِكَ ، وَفَرَاغَكَ قَبْلَ شُغْلِكَ ، وَحَيَاتَكَ قَبْلَ مَوْتِكَ (ترجمة) رسول الله ﷺ فرمائیلی : پنځه څیزونه غنمت وګنړه د پنځو څیزونو نه مخکښې ځوانئ د بوډاتوب نه مخکښې روغ صحت د ناروغتیا نه مخکښې مالداری د غریبی نه مخکښې ، أوزګاتیا د مشغولتیا نه مخکحښې او خپل ژوند غنیمت وګنړه د مرګ نه مخکښې.